## برخه: په افغانستان کي د زراعتي ځمکو نوعي (B)

## دوهم لوست: د پیسو او وخت په منځ کي د اړیکو درک او پوهه

**د زده کونکو د زده کړي موخي یا هدفونه** زده کونکي به ددي لوست په پایله کي له لاندې موخو سره اشنا شي، د دې لوست تشریحات باید چي د لاندې موخو د منځته راتلو پایلي وګرځي:

1. د پیسو زماني ارزښت تشریح او روښانه کړئ.
2. د ترکیب جوړنې(compounding) مفهوم یا مقصد بیان کړئ.
3. د تحفیف مفهوم تشریح او روښانه کړئ.

**وړاندیز وخت د لوست ورکولو لپاره:** ۲ساعته

**وړاندیز منابع :** لاندې منابع کیدلی شي چي ددي لوست په تدریس کولو کي ګټوری واقع شي:
د دې درسي پلان نه د استفادې په خاطر د پاورپواینټ ارایه کول هم ترتیب شوي دي. د لاندې ویب پاڼو څخه هم په دي برخه کي استفاده او ګټه اخستل کیدلی شي.


Barry, Peter, Paul Ellinger, John Hopkin, and C.B. Baker. Financial Management in Agriculture. Danville, Illinois: Interstate Publishers, Inc. 1995

Descisions and Dollars. Alexandria, Virginia. The Council for Agriculture Education, 1993. (Curriculum Binder)

Gibson, Jerry D., et al. *Agribusiness Management, Marketing, Human Resources Development, Communication, and Technology*. Danville, Illinois: Interstate Publishers, Inc., 2001.

Little, Randall. *Economics: Applications to Agriculture and Agribusiness*. Danville, Illinois: Interstate Publishers, Inc., 1997. (Textbook, Chapter 9)


**دسامان الاتو،وسایلو او لازمو اسانتیاو لړلیک**

دلیکلوپه خاطر سپینه ورقه یا صفحه

دپاورپواینټ پروګرام په خاطر غټ ښودونکی (پراجکتور)

دپاورپواینټ (دکمپیوټرپروګرام) صفحي

روښانه سلایدونه یا صفحي

د زده کونکو کار ورقي

**اصطلاحات:**په دی درس کی لاندی اصطلاحات کارول کیږی (ذکر شوی اصطلاح ګانی دپاورپواینټ په دوهم ګڼه سلاید یا صفحه کی وړاندی شوی دی)

- Compound interest مرکب سود
- Compounding ترکیب کیدل، مرکب کیدل، ترکیب یا جوړښت
- Discounting تخفیف یا کمښت(اوسنی ارزښت ته تنزیل)

- Inflation تورم
- Interest rate د سود ميزان يا اندازه
- Risk د خطر يا ننګونې احتمال
- Simple interest ساده سود
- Time value of money د پيسو زماني ارزښت

**په زړه پوري تګلاره :** له په زړه پوري تګلاري څخه ګټه پورته کړئ ترڅو چي زده کونکي د لوست لپاره اماده کړل شي.ډيرى ښوونكي د خپلو ځآنګړو ټوليګيو لپاره لازمي لاري چاري او شرايط ترتيب او برابروي. په دي ځآى كي يوه ممکنه تګلاره تر استفادې لاندې نيول کيږي.
دا سناريو د زده کونکو لپاره بيان او روښانه کړئ. د هغوي ځوابونه په تخته باندې نوشته کړئ. که چيري تاسې په بانکي حساب کي ۲۵۰۰۰۰ افغانۍ په ٥،٥ فيصد سود سره د ١٥ کالو لپاره ايښي وي، د هغې وخت ارزښت چې تاسې ٦٥ کلن اوسۍ څومره به وي؟ د هغې درست او صحيح ځواب ٣٦٣٥٤٩٠ افغانۍ دی. دې موضوع ته د زده کونکو د لوستي موخو سره اړيکه ورکړئ.

## د محتوياتو لنډيز او د لوست ستراتيژي ګاني

**لومړۍ موخه يا هدف :** د پيسو زماني ارزښت تشريح او روښانه کړئ

**آټکل شوی يا وړاندېز شوی ستونزه:** د پيسو زماني ارزښت څه دی؟

**(د پاورپواينټ ٣ شميره سلايد)**

**١ – د پيسو زماني ارزښت** په دي معني سره دی چي د افغانيو ارزښت د وخت په يوه مقطع کي نسبت د عينو افغانيو ارزښت ته د يوه بل وخت په مقطع کي نسبتاً لوړ وي.

**(د پاورپواينټ ٤ شميره سلايد)**

**الف) د سود ميزان يا اندازه** هغه ميکانيزم ته ورته وي چي د پيسو زماني ارزښت مقايسه يا پرتله کوي.

**(د پاورپواينټ ٥ شميره سلايد)**

**ب)** د سود اندازه يا ميزان د پيسو د اوسنی او راتلونکی ارزښت په منځ کي ارزښت تبادله کوي.
**ج)** د سود ميزان يا اندازه د خطر او پړسوب لرونکي دي.
- **خطر يا ننګونه (*Risk*)** له هغه احتمال نه عبارت دی چي د سرمايې واقعي برګشت يا عايد نسبت توقع ته متفاوت يا توپيري وي.
- **تورم** (*Inflation*) په يوه اقتصاد کي د خدماتو او اجناسو د عمومي نرخونو د سطحې له لوړيدو نه عبارت دی. البته په يوه معين او ټاکلی وخت کي.

**(د پاورپواينټ ٦ شميره سلايد)**

**الف )** د سود تاديه کول د هغو پيسو څخه عبارت دي چي د پس اندازه په بدله کي تاديه کيږي. د سود تاديه له سرمايه ګذاری څخه مخکې عوايدو او خريداری لپاره د جبيري نه عبارت دی.

**د پیسو د زماني ارزښت د تشریح کولو په خاطر له** TM: 2-1 **درسي موادو څخه استفاده وکړئ.**

**دوهمه موخه یا هدف :** د ترکیب جوړنې(compounding) مفهوم یا مقصد بیان کړئ.

**آټکل شوی یا وړاندیز شوی ستونزه:** ترکیب جوړول څه دی؟

**(د پاورپواینټ ۷ شمیره سلاید)**

**۱ – سود یا مرکبه ربح** له هغې سود نه عبارت دی چي له اصلي سرمایي سره اضافه کیږي. یا مرکب سود هغه ګټې ته اشاره کوي چي د قرضي یا پور له مجموعي اندازې یا مقدار سره اضافه کیږي. د قرضي یا پور د اندازې په اضافه کولو سره، د ګټو مصارف هم زیاتوالی پیداکوي.

- هرڅومره چي اصلي پیسي زیاتي کړل شي په هماغې اندازې سره د تادیه شوي سود اندازه هم زیاتیږي.

**(د پاورپواینټ ۸ شمیره سلاید)**

**الف) ترکیب جوړول (*Compounding*)** له هغې پروسي یا پړاو نه عبارت دی چي د مرکب سود محاسبه تشریح او روښانه کوي.

**(د پاورپواینټ ۹ شمیره سلاید)**

**ب) ساده سود** په دي معنی سره دی چي یوازې له اصلي پیسو سره د سود د معاملې په دوران کي زیاتیږي

**(د پاورپواینټ ۱۰ شمیره سلاید)**

- **الف)** د سود د رقم د معلومولو لپاره د ساده سود له لاري د لاندې معادلې څخه استفاده کوو.
- FV = PV + N(PV x i)
- FV= راتلونکی ارزښت
- PV= فعلی یا اوسنی ارزښت
- N = د تسعیر مودو شمیر
- i= د سود میزان یا اندازه

**(د پاورپواینټ ۱۱ شمیره سلاید)**

- **ب)** د پولي رقم د معلومولو په خاطر کومي چي د مرکب سود له لاري په لاس راځي د لاندې فورمول پواسطه تشخیص کیږي:
- FV = PV x (1 + i) N
- FV= راتلونکی ارزښت
- PV= فعلی یا اوسنی ارزښت
- N = د تسعیر د مودو شمیر
- i= د سود میزان یا اندازه

**(د پاورپواینټ ۱۲ شمیره سلاید)**

یوه هکتار زراعتي ځمکه په ۱۰۰۰۰۰ افغانیو باندې پلورل کیږي، که چیري یوه هکتار ځمکه د ۲۵ کالو لپاره وپلورل شي او د هغې کلنی زیاتوالی اندازه ۳ فیصده وي نو دیو هکتار ځمکې کلنی پیسي به څومره وي؟

ځواب

- = 100,000 (1.03)25
- = 100,000 (2.094)
- 209,377 =افغاني په يوه هكتار كي

**د تركيب جوړونې د مفهوم د بيانولو لپاره له** TM 2-2 **درسي موادو څخه استفاده وكړئ.**

**دريمه موخه يا هدف:** د تخفيف مفهوم تشريح او روښانه كړئ.

**آټكل شوی يا وړانديز شوی ستونزه:** تخفيف يا كمښت څه دی؟

**(د پاورپواينټ ١٣ شميره سلايد)**

**١ – تخفيف يا كمښت**، د پيسو اوسنی يا فعلی ارزښت مقايسه يا پرتله كوي چي په راتلونكي كي وصول كيږي.

- تخفيف،يا كمښت د پانګونې له لاسته راوړنې څخه عبارت دی چي د هغې د اصول كولو لپاره په آينده كي انتظار كيږي، نسبت دي ته چي همدا اوس هغه وصول كړل شي او د بديل په لاره كي سرمايه ګذاري كړل شي.

**(د پاورپواينټ ١٤ شميره سلايد)**

**الف)** د دې لپاره چي اوسنی يا فعلی ارزښت د پيسو كومي چي په راتلونكي كي په لاس راځي معلوم كړو، نو د لاندې معادلې څخه استفاده وكړئ:

PV = FV(1 + i)-N

د مثال يا بيلګې په توګه كولی شوو چي د يوې مزرعې نوم واخلو، كه چيري ذكر شوي مزرعه د ١٠٠٠٠ افغانيو په بدل كي في هكتار پلورل شوي وي او د ٥ فيصدو په اندازې سره هر كال په كي زياتوالی راغلي وي، پس د هغې د شپږ كالو مخكنی قيمت به څومره وو؟

100,000(1.05)–6 = 100,000(0.746)

ځواب 74,621 = افغانی في هكتار

د دې موخې يا هدف د تشريح او روښانه كولو لپاره له درسي موادو څخه استفاده وكړئ. زده كونكو ته د ١-٢كاري صفحه يا ورقه (د پيسو زماني ارزښت) د كورنی كار په شكل سره وركړئ.

**تكرار ١لنډيز:** د زده كونكو د زده كړو موخو څخه د لوست د لنډيز په توګه استفاده وكړئ. له زده كونكو څخه غوښتنه وكړئ ترڅو چي د هري موخې يا هدف پوري تړلي محتويات تشريح او روښانه كړئ. د زده كونكو ځوابونه كولی شي دا تشخيص كړي چي كومه موخه يا هدف بيا كتنې يا تدريس ته د بيا ځل لپاره په مختلفي طريقي سره اړتيا لري. هغه سوالونه چي د پاورپواينټ په ١٥ شميري سلايد كي دي هم كيدلی شي چي په دې برخه كي تر استفادي لاندې ونيول شي.

**ارزیابی:** ارزیابی  باید د زده کونکو د لاسته راوړنو په اساس سره د لوست د موخو په برخه کي متمرکزه وي. په دي برخه کي کیدلی شي چي مختلفو تخنیکونو څخه استفاده سرته ورسیږي،لکه د ( WS: 2-1 Time Value of Money)لابراتواري ضمیمه صفحاتو څخه استفاده کول.

**نمونه ئي امتحان ته ځوابونه**
**لومړی برخه:مطابقت یا اړیکه ورکول**

1. F
2. B
3. C
4. A
5. E
6. D

**خالي یا تش ځآیونه په مناسبو کلمو یا کلمې سره ډک کړئ**

1. Future راتلونکی
2. Compounding ترکیب جوړول
3. Risk, inflation خطر ، تورم
4. Purchases, earnings پیرودل، په لاس راوړل

**لنډ ځواب**

1. 112,550 افغانی = 100,000 × $(1.03)^4$
2. 177,040  افغانی
   500,000 × $(1.0625)^5$ = 677,040
   677,040 - 500,000 = 177,040 افغانی

**نمونه یی امتحان**

**نوم** ____________________

امتحان(ازموینه)

**لومړۍ برخه:مطابقت یا اړیکه ورکول**

رهنمایی(لارښوونه): اصطلاح د درست ځواب سره سمه ارایه کړئ. د اصطلاح توری د هغې له درست تعریف سره سم نوشته کړئ

a. time value of money د پیسو زماني ارزښت
b. compound interest مرکب سود
c. simple interest ساده سود
d. discounting تخفیف یا کمښت
e. compounding ترکیب جوړول
f. interest rate د سود اندازه یا میزان

________ ۱ د سود میزان د فعلی یا اوسنی نرخ او رتلونکی نرخ په منځ کي پولی ارزښت تبادله کوي.

________۲ هغه ګټي یا مفاد ته اشاره کوي چي د قرضي له مجموعي اندازې سره اضافه کیږي. د قرضې د مجموعي اندازې په زیاتوالی سره، د ګټو مصارف هم زیاتوالی پیدا کوي.

______-__۳ دیوازې د سود اصلي پیسي په لاس راځي.

_____-___٤ **پول** په دي معنی سره دی چي د افغانۍ ارزښت د وخت په یوه مقطع کي نسبت د عینو افغانیو ارزښت د وخت په بله مقطع کي نسبتاً لوړ وي.

________ ٥ د مرکب سود د محاسبه کولو له پروسې یا پړاوو نه عبارت دي.

________ 6 د پیسو اوسنی ارزښت مقایسه یاپرتله کوي کوم چي په راتلونکی کي په لاس راځي.

**خالي یا تش ځآیونه په مناسبو کلمو یا کلمې سره ډک کړئ(لاندې جملې بشپړي کړئ)**

1 . تخفیف،یا کمښت د پانګې اچولو له لاسته راوړنې څخه عبارت دی کوم چي د هغې د ______________ اصولولو لپاره انتظار ویستل کیږي، نسبت دي ته چي همدا اوس هغه وصول شي او په یوه بدیل لاره کي سرمایه ګذاري کړل شي

2 . __________ له هغې کړنلاري څخه عبارت ده چي د هغې پواسطه معاش په راتلونکی د کلنی زیاتوالی سره معلوم کیدلی شي.

3 . د سود میزان یا اندازه له ______________ او ______________ څخه نماینده ګي کوي.

4. د سود تادیه کول له هغو پیسو څخه عبارت دي چي د پس انداز په بدل کي تادیه کیږي. د سود تادیه کول له ______________ څخه عبارت دي چي د مخکني عواید د پیرودلو لپاره د سرمایه ګذارۍ څخه وي.

**لنډ ځواب: لاندې سوالونو ته ځوابونه برابر او تهیه کړئ.**

1 - په هغه صورت کي چي تاسې اوسنی کلنی لاسته راوړنه ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ وي او ددي طمع ولرۍ چي د نرخونو اندازه ۳ فیصده زیاتوالی پیدا کړي، نو ستاسې لپاره په څلورو کلونو کي څومره تادیه به ولري؟

2 - که چیري تاسې ۵۰۰۰۰۰ افغانۍ په ۵ کالو کي په بانک کي ایښي وي(سود په کلنی ډول سره ترکیب پیدا کړی دی) د ٦،٢٥ فیصده سود په نرخ، نو تاسې به څومره فایده یا ګټه په لاس راوړئ؟

TM: 2-1

## د پیسو زماني ارزښت

**د پیسو زماني ارزښت** په دي معني سره دی چي افغاني ارزښت د وخت په یوه مقطع کي د عین افغانیو ارزښت ته د وخت په بله مقطع کي نسبتاً لوړ وي.
د سود میزان یا اندازه – د یوه میکانیزم په شکل سره د زماني پیسو د ارزښت د مقایسه کولو لپاره تر استفادې لاندې نیول کیږي.

د سود میزان یا اندازه د اوسنی نرخ او راتلونکی نرخ په منځ کي د پیسو ارزښت تبادله کوي.

له تورم یا تنګونې څخه نماینده ګي کوي.

TM: 2-2

## ترکیب جوړول

**سود یا مرکب ربح** له هغې سود څخه عبارت دی چي د اصلي سرمايي یا پانګې په ډول سره زیاتیږي. یا مرکب سود هغه ګټي یا مفاد ته اشاره کوي چي د قرضې له مجموعي اندازې یا مقدار سره اضافه کیږي. د قرضې د مجموعي اندازې د زیاتوالی سره، د ګټو مصارف هم زیاتوالی پیدا کوي. یا Compound interest په دي نوعه سود کي د سود پیسي په اصلي پیسو باندې اضافه کیږي او په دواړو اصلي او سود پیسو باندې سود محاسبه کیږي.

**ترکیب جوړول (*Compounding*)** له هغې پروسې یا پړاو نه عبارت دی چي د مرکب سود محاسبه تشریح او روښانه کوي.

فورمول: $FV = PV \times (1 + i)^N$

FV = راتلونکی ارزښت

PV = فعلی یا اوسنی ارزښت

N = د تبادلې شمیر

i = د سود میزان یا اندازه

**ساده سود** په دې معنی سره دی چې یوازې له اصلي پیسو سره د سود د معاملې په دوران کي زیاتیږي

فورمول: $FV = PV + n(PV \times i)$

TM: 2-3

# تخفیف(کمښت)

**تخفیف**، یا کمښت د پیسو فعلی یا اوسنی ارزښت مقایسه یا پرتله کوي کومي چي په راتلونکي کي وصول کیږي.

یا **تخفیف،** د پانګونې له لاسته راوړنې څخه عبارت دی چي په راتلونکی کي د زیاتي اصولی لپاره د هغې انتظار کیږي، نسبت دي ته چي همدا اوس هغه وصول کړو او د په یوه بدیل لاره کي يي سرمایه ګذاري وشي.

فورمولا: $PV = FV(1 + i)^{-N}$

WS: 2-1

**مقصد: د پیسو زماني ارزښت**

**کاري پروسیجر یا پړاو :** له معلوماتو څخه په استفادې سره د لاندې سوالونو لپاره ځواب وړاندې کړئ.
له لاندې فورمول څخه استفاده وکړئ.

$FV = PV(1 + i)^{N}$ یا $PV = FV \times (1 + i)^{-N}$

1 – داسې فرض کړئ چې تاسې نوی په یوه وظیفه یا دنده باندې گمارل شوي یاست چې ستاسې کلنی معاش ۱۲۵۰۰۰۰ افغانۍ دی. که چیري تاسې د هغې په هکله د کلنی ٥ فیصده زیاتوالی لپاره انتظار لرئ، نو ستاسې معاش به د لاندې حالت لپاره په څومره اندازې سره وي؟

a. پنځه کاله وروسته ؟

b. لس کاله وروسته ؟

c. پنځلس کاله وروسته ؟

d. دیرش کاله وروسته ؟

2. د اوس لپاره زراعتي ځمکه یوه هکتار په ۲۰۰۰۰۰ افغانیو باندې پلورل کیږي. په هغه صورت کې چې کلنی زیاتوالی ۲ فیصده وي، نو د لس کاله مخکنۍ قیمت به د ځمکې په کومې اندازې سره وو؟

WS KEY: 2-1

## د پیسو زماني ارزښت

جواب

1. a. 1,250,000 $(1.05)^{5}$ = 1,595,352 افغانی
   b. 1,250,000 $(1.05)^{10}$ = 2,036,118 افغانی
   c. 1,250,000 $(1.05)^{15}$ = 2,598,660 افغانی
   d. 1,250,000 $(1.05)^{30}$ = 5,402,428 افغانی

2. 164,069 افغانی = 200,000 × $(1 + .02)^{-10}$